# عمومي طرزالعمل : دپانګې اچونې لپاره مالياتي تعطيلات ، معافيتونه او امتيازونه ( 53 ماده )

ددغه طرزالعمل موخه

دغه **طرزالعمل** پرعايداتو دمالياتو قانون د **96** مادې پر اساس وضع کيږي. نوموړې ماده دا موضوع روښانه کوي چې دماليې وزارت پرعايداتو باندې دمالياتو دقانون**53** ماده په څه ډول تعبير کوي. ماليه ورکوونکې کولی شي چې ددې مادې دمعلوماتو پر بنسټ **خپل** مالياتي مسؤليت تشخيص کړي. يعنې که چيرې يو ماليه ورکوونکی ددغه **طرزالعمل** له مخې **خپل** مالياتي مسؤليت اظهار او سرته يې ورسوي ، دماليې وزارت به دنوموړي د هغو ماليې وړ عوايدو دمالياتي مسؤليت چې په دغه **طرزالعمل** کې روښانه شوي دي دزياتې او دوهم ځل ارزيابي په اړه اقدام و نه کړي ، حتی که دماليې وزارت **منل** شوی تعبير بيا وروسته د محکمې له خوا ناسم هم وپيژندل شي او دماليه ورکوونکي مالياتي مسؤليت چې دهغه له مخې ورڅخه ماليه اخيستل کيږي دمحکې دتعبير له مخې لوړ ومنل شي. همدارنګه دماليې وزارت به ونه غواړي هغه اشخاص چې ددې **طرزالعمل** له مخې يې **خپل** مالياتي مسؤليتونه سرته رسولي دي جريمه کړي.

## مقدمه

1 . په افغانستان کې ميشت( مقيم ) هغه اشخاص چې له کورنيو او بهرنيو عايداتي سرچينو ( منابعو) څخه عوايد ترلاسه کوي اوهغه غير ميشت ( غيرمقيم ) اشخاص چې دهيواد له کورنيو سرچينو( منابعو) څخه عوايد ترلاسه کوي ، د

1344 هجري لمريز کال پر عايداتوباندې د مالياتو دقانون د تعديل له مخې مکلف دي چې پرعايداتوباندې ماليه په افغانستان کې ورکړي .پر عايداتوباندې د مالياتودقانون عمومي مقررات د ځينو استثناآتو تابع دي . پرعايداتوباندې دمالياتو قانون داسې تفسير شوی وه چې ګويا دهغو معافيتونو او امتيازونو تابع دی چې د بهرنۍ پانګې اچونې او يا د کورنۍ او بهرنۍ پانګې اچونې په قانون کې موجود دي ، 76 ماده څرګندوي چې پرعايداتو باندې دمالياتو په قانون کې معافيتونو او امتيازونو د انتفاعي معاملو د ماليې نه لومړي توب درلود .

شپږ اويايمه ماده د 1383کال د غبرګولې له 30 نيټې نه لغوه ګڼل کيږي.

په وروستيو کلونو کې ځينو تصديو له وزارتونو سره د شخصي تړونونو پر اساس مالياتي امتيازونه او معافيتونه ترلاسه کړي وه . د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې د قانون له مخې دغه تړونونه هيڅ قانوني بنه نه لري.

2. د هغو امتيازونو او معافيتونو برعلاوه چې د بهرنۍ اوياد کورنۍ او بهرنۍخصوصي پانګې اچوونې په قانون کې وجود لري، پرعايداتوباندې د مالياتو قانون عمومي قواعد ځينې امتيازونه لري. د 47 مادې پر اساس خالص ضرر د راتلوونکو درې کلونو پوري انتقال مومي . د 52 مادې پر اساس د صنعتي او معادنو د را ايستلو شرکتونو لپاره پنځلس فيصده کريدت په نظرکې نيول شوی وه . پورتنۍ 52 ماده د 1384 کال د وري له لومړۍ نيټې څخه لغوه ګڼل کيږي. د 53 مادې پر اساس منظورشوي شرکتونه د سريع استهلاک اود ضررد انتقال ددوو امتيازونو څخه ترهغه وخته پورې

ګټه پورته کولی شي ترڅوچې ضرر په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي.

3. په نورو قوانينو کې ټول هغه مالياتي معافيتونه چې پر عايداتو باندې دمالياتو د قانون سره په مغايرت کې وي ،ددولت دمحترم رئيس د 1018 نمبر فرمان پر اساس چې په 1383 کال کې صادرشوی دی لغوه ګڼل کيږي . پر عايداتوباندې د مالياتو قانون د د جمهور رئيس دفرمان پر اساس تعديل شوی دی . د نوموړي قانو ن 53 ماده داسې حکم کوي که چيرې قراردادونه ، تړونونه او د نورو قوانينو حکمونه پرعايداتو باندې دمالياتو دقانون له حکمونو سره په مغايرت کې وي نوپه دغه صورت کې پرعايداتو باندې دمالياتو د قانون حکمونه تطبيقيږي .

ددې عمومي وضيعت نه په استثناسره 53 ماده داسې حکم کوي چې دهغو شرکتونو مالياتي معافيتونه له منځه نه ځي چې دکورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې د قانون سره سم د 1382 کال د ليندۍ له لومړۍ ( 21 / 11 / 2003 ) نيټې څخه دمخه يې په فعاليت پيل کړی وي ، د کورنۍ او بهرنۍ پانګې اچونې دقانو ن له مقرراتو او جواز دمقرراتو څخه چې دهغو له مخې يې معافيت ترلاسه کړی دی پيروي کړې وي . يعنې پرعايداتوباندې دمالياتو قانون دهغو منظورشوو تشبثونو (شرکتونو) معافيت نه لغوه کوی چې د مقرراتو نه د پيروۍ د ثبوت په اړه دقيق معلومات ورکړي. بياهم مالياتې معافيتونه يوازې دټاکل شوې مودې لپاره دوام پيداکولی شي، که چيرې دپورتني

معافیت موده د 1383 کال د چنګاښ له لومړۍ ( 21 / 06 / 2004)
نیټې نه وروسته تمدید شوې وی ، د اعتبار وړ نه ده.

4. دغه مقرره د 1383 کال دچنګاښ له لومړۍ نیټې نه دمخه مالیاتي معافیتونه او امتیازونه ، پر عایداتوباندې دمالیاتو هغه نوي مالیاتي امتازونه چې د پورتنۍ نیټې نه وروسته د اعتبار وړدي ، او دهغو تشبثونو لپاره عبوري مقررات توضیح کوي چې دمالیاتي مقرراتو نه دنه پیروي له امله يې مالیاتي امتیازونه او معافیتونه د چنګاښ له لومړۍ ( 21 / 06 / 2004 ) نیټې تغیرمومي.

## لومړۍ برخه : هغه مالیاتي امتیازونه چې له وزیرانو اویا نورو دولتي چارواکو سره د خصوصي تړونونوپه نتیجه کې ورکړل شوي دي.

5. د 1383 کال دچنګاښ د لومړۍ ( 21 / 06 / 2004 ) نیټې نه دمخه ځینې تشبثونو دافغانستان د دولت له وزارتونو سره دپانګې اچونې په اړوند تړونونه لاسلیک کړي دي چې دځینو تړونونو له مخې هغوی ته مالیاتې معافیتونه ورکړل شوي دي.

6. دافغانستان په قوانینو کې هیڅ داسې یو حکم نشته چې ددولتې چارواکو او پانګې اچوونکو ترمنځ د شخصې تړونونو له مخې د مالیاتې معافیتونو او امتیازونو ورکولو ته اجازه ورکړي. ددغه ډول تړونونو له مخې د مالیاتې معافیتونو او امتیازونو ورکول داساسي قانون پرخلاف یو عمل ګڼل کیږي ځکه اساسي قانون داسې حکم کوي چې ټولې مالیاتي کړنې ( حتی که دمالیې مقدار

صفر هم وي ) بايد د قانون له مخې ترسره شي نه د شخصي تړونونو له مخې ( دافغانستان داساسي قانون 42 ماده ). نو په دغه اساس هغه مالياتي معافيتونه او امتيازونه چې د شخصي تړونونو له مخې ورکړل شوي دي قانوني بڼه نه لري او دماليې وزارت ته هم د اعتبار وړ نه دي.

7. ډير شمير هغه اشخاص چې د خصوصي تړونونو له مخې يې مالياتې معافيتونه او امتيازونه ترلاسه کړي دي داسې ګڼې چې ګويا دغه تړون د 1381 کال د کورنۍ او بهرنۍ پانګې اچونې د قانون سره مطابقت لري او ګمان کوي چې قانون هغه ته اجازه ورکړې ده . همدارنګه ځينې وخت هغه دولتې چارواکي چې د تړون د لاسليکوونکو له ډلې څخه دي شايد داسې ګمان کړی وي چې دوی هم د 1381 کال د کورنۍ او بهرنۍ پانګې اچونې د قانون سره سم اجرات کړي دي.

8. د دوه اړخيز ګمان له مخې ، چې يو اړخ يې هغه ګټه لاسته راوړونکي تشبثونه دي چې د 1383 کال د چنګابښ له لومړۍ( 21 / 06 / 2004 ) نيټې څخه دمخه په تړون کې شامل شوي دي او بل اړخ يې هغه دولتي چارواکې دي چې نوموړی تړون يې منظور کړی دی، نوپه دغه حالاتو کې دماليې وزارت دې نتيجې ته رسيږي چې داسې وګڼې چې ګو يا ورکړل شوي مالياتي معافيتونه او امتيازونه د 1381 کال د کورنۍ او بهرنۍ پانګې اچونې د قانون له مخې ورکړل شوي دي .

9. نو له دغه امله دترون دلاسلیک کوونکو تشبثونو مالیاتي موقف دهغو اشخاصود موقف په شان گڼل کیږي چې د افغانستان د 1381 کال دکورنۍ او بهرنۍ پانگې اچونې دقانون د حکمونو له مخې ورته مالیاتي معافیت ورکړل شوی دي . نوموړې موضوع ددغې مقررې په دوهمه برخه کې روښانه شوې ده . پرعایداتو دمالیاتو دقانون د 53 مادې د لومړۍ فقرې پر اساس هغه تړونونه چې د 1383 کال د چنگاښ په لومړۍ ( 21 / 06 / 2004 ) نیټه اویا دهغې نه وروسته لاسلیک شوي دي او دهغو له مخې پرعایداتوباندې دمالیاتو قانون دحکمونو برخلاف مالیاتي معافیتونه او امتیازونه ورکړل شوي دي ، داعتبار وړ نه دي( لغوه دي). که چیرې تړونونه د 1383 کال دچنگاښ د لومړۍ ( 21 / 06 / 2005) نیټې نه دمخه لاسلیک شوي وي او دهغو له مخې مالیاتي معافیتونه او امتیازونه چې پرعایداتوباندې دمالیاتو دقانون سره سمون نه لري ورکړل شوي وي ، دنوموړو تړونونو احکام د 1383 کال د چنگاښ له لومړۍ ( 21 / 06 / 2004 ) نیټې نه لغوه گڼل کیږي.

## دوهمه برخه : د 1381 کال د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانگې اچونې په قانون کې مالیاتي معافیتونه

10. پرعایداتوباندې دمالیاتو دقانون نه غیر د 1381 کال کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانگې اچونې په قانون کې د مالیاتي معافیتونو او امتیازونو یادونه شوې ده . دافغانستان دولت غواړي چې د 1381 کال د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانگې اچونې قانون له منځه یوسي او پرځای یې د 1384 کال د خصوصي پانگې اچونې

قانون نافذ کړي. ددې مقررې د ترتيب تروخت پورې نوی قانون نه دې تصويب شوی مګر داسې ګڼل (فرض) شوې ده چې نوموړی قانون توشيح شوی او د 1383 کال د چنګاښ له لومړۍ (21 / 06 / 2005) نيټې څخه دتطبيق وړدې . همدارنګه دا مقرره دهغو تشبثونو مالياتي معافيتونه چې د 1384 کال د پانګې اچونې دقانون له مخې ثبتيږي او هغه اشخاص چې د 1381 کال د پانګې اچونې د قانون له مخې ثبت شوي دي توضيح کوي.

11. د 1381 کال دپانګې اچونې دقانون له مخې دپا نګې اچونې يو کميسون تشکيل شوی وه چې دخصوصي پانګې اچونې ادارې تر نظارت لاندې وساتې. په دغه قانون کې د منظورشوو تشبثونو لپاره مالياتي معافيتونه او دهغو موده چې د خصوصي پانګې اچونې ادارې له خوا وررکړل شوی وه وجود درلود . د 1382 کال د نيمايې نه وړاندې دخصوصي پانګې اچونې دندې د سوداګرې وزارت د پانګې اچونې د پرمختياد ادارې له خوا پر مخ وړل کيدې او دهغه وخت نه وروسته دغه دنده دافغانستان د پانګې اچونې مرستندويه ادارې (آيسا) ته سپارل شوې ده.

12. هغه منظور شوي تشبثونه چې مالياتې معافيتونه يې بايد پرځای پاتې شي مکلف دي چې خپل کلني حسابونه د نړيوالو معيارونوپر اساس برابر او د 1381 کال دکورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې قانون د 5 مادې له مخې يې د افغانستان د پانګې اچونې مرستندويه ادارې (آيسا) ته د کتنې (ارزيابي) لپاره و سپاري.

13. ددې لپاره چې دپانګې اچونې دپرمختیا اداره او یا دهغې ځای نیونکې د افغانستان د پانګې اچونې مرستندویه اداره ( آیسا) د 1381 کال د قانون مطابق یو منظور شوی تشبث دمالیاتي معافیتونو لپاره مستحق وپیژني ، نوموړی شرکت باید دا ثابته کړي چې د ټولو مالیاتې معافیتونوله مقرراتو څخه يې پیروي کړې ده . په ځانګړي توګه د منظورشوو شرکتونو مسؤلین باید ثابته کړي چې خپل حسابونه يې دنړیوالو معیارونو پر اساس ترتیب کړي او بیایې اړوندو ځانګوته سپارلي دي. که چیرې یو منظور شوي تشبث د هر یوې پورتنې اداري له خوا مالیاتي معافیت ترلاسه کړي او خپل حسابونه يې په نړیواله بڼه برابرکړي وي او د حد اقل سرمایې د ورکړې غوښتنې يې پرځای کړي وي،دمالیاتې معافیتونو ( پرعایداتوباندې دمالیاتو دقانون له مخې د انتفاعې معاملو دمالیې په ګډون ) لپاره مستحق ګڼل کیږي . دغه امتیازد جوازلیک د ترلاسه کولو د نیټې نه دهغه ترپایه پورې د اعتباروړدی.

14. هغه منظور شوي تشبثونه چې د پانګې اچونې د پرمختیا ادارې اویا د افغانستان دپانګې اچونې مرستندویه ادارې ( آیسا) له خوا دمالیاتي معافیتونو دترلاسه کولولپاره مستحق ګڼل شوي دي ولې که ونشي کولی چې خپل حسابونه دنړیوالو محاسبوي معیارونوسره سم ترتیب کړي ، په دغه صورت کې هغوی نشي کولی چې د پورتنیومالیاتي معافیتونوڅخه ګټه واخلي .ولی دمالیې وزارت بیاهم داسې ګڼي ( فرض کوي ) چې ټول منظورشوي تشبثونه دپانګې اچونې دپرمختیاادارې او یا دافغانستان دپانګې اچونې

مرستندويه اداري( آيسا)له خوا دمالياتي امتيازونو او معافيتونونه د ترلاسه کولولپاره مستحق پيژندل شوي دي او د 1383 کال د چنګاښ د لومړۍ( 21 / 06 / 2004 ) نيټې پورې يې نوموړي مقررات تکميل کړي دي.

15. هغه مالياتي معافيتونه چې د 1381 کال دپانګې اچونې دقانون له مخې ورکړل شوي دي او د 1384 کال دچنګاښ په په لومړۍ ( 21 / 6 / 2005 ) نيټه لغوه کيږي ، د هغو څخه ګټه پورته کوونکي تشبثونه مکلف دي چې د 1383 کال دوري له لومړۍ ( 20 / 03 / 2004 ) نيټې نه ددغه کال د کب تر 30 ( 30 / 03 / 2005 ) نيټې پورې خپل حسابونه ترتيب کړي. ولې بياهم د 1383 کال د چنګاښ د لومړۍ ( 21 / 03 / 2004 ) نيټې نه د 1383 مالي کال تر اخره پورې دځانګړو حسابونو دنه درلودلو په صورت کې پرعايداتوباندې دمالياتو دسنجش په موخه د ماليې ورعوايدو کسرات او مجاز مجرايي يې هم د منلووړ دي. لکه څرنګه چې ددې طرزالعمل په دريمه فقره کې يې يادونه شوې ده، پورتنۍ مقرره په هغو تشبثونوباندې چې د 1382 کال د ليندۍ له ( 22 / 11 / 2003 ) نيټې نه دمخه يې فعاليت پيل کړی وي او د اسې دقيق اسناد ولري چې دمقرراتو څخه دهغوې پيروي ثابته کړي نه تطبيق کيږي.

16. که چيرې يو منظورشوی تشبث دمالياتي معافيتونوڅخه د استفادې کولو مستحق و پيژندل شي ، نورې ماليې پرې نه تطبيق کيږي .دغه معافيتونه عبارت دي له پرعايداتو ماليې ،

پرعايداتوباندې دمالياتو پرځای ثابتې ماليې،دانتفاعي معالوماليې اوددارائي دمنحل کيدو په صورت کې پرعايداتوباندې ماليې . ولې په نومووړو معافيتونوکې هغه ماليې شاملې نه دي چې پر نورو اشخاصو او نهادونو وضع شوي او نومووړی تشبث دهغوې په استازيتوب دماليې په وضع کولومکلف وي. دبيلګې په توګه د کرايې موضوعي ماليه دجايداد دمالک پرعوايدو تطبيق کيږي. هغه منظورشوی تشبث چې مالياتي معافيت لري مکلف دي چې دکرايې موضوعي ماليه دهغې کرايې نه وضع کړي چې دجايداد مالک ته يې ورکوي. همدارنګه پرمعاشونو موضوعي ماليه ديو منظورشوي تشبث په کارکوونکو بغير له دې چې نوموړی شرکت د مالياتي معافيتونو مستحق دې او کنه تطبيق کيږي. يو منظور شوی تشبث مکلف دې چې دسهم پر مفاد ماليه د هغه سهم څخه چې سهام ته يې ورکوي وضع کړي.

## دريمه برخه : مالياتي معافيتونه او په افغانستان کې دپانګې اچونې د 1384 کال پيشنهادشوی قانون

17. څنګه چې مخکې وويل شول ، د افغانستان دولت په نظرکې لري چې د 1381 کال د خصوصي پانګې اچونې قانون پرځای يو نوی قانون منځ ته راوړي. په 1383 کال کې د دولت د رياست لخوا صادر شوي 1018 نمبر فرمان اوپر عايداتوباندې دمالياتو دقانون د 53 مادې د اولې فقرې پر اساس به د خصوصي پانګې اچونې نوی قانون هيڅ ډول مالياتي امتيازونه او معافيتونه و نه لري. خود

1384 کال د پیشنهاد شوي قانون د احکامو له مخې پرعایداتو باندې دمالیاتو قانون په داسې بڼه تعدیل شوی دی چې منظورشوو او ثبت شوو شرکتونوته دوه ډوله مالیاتي امتیازونه ورکوي.

18. پرعایداتو باندې دمالیاتوپه قانو ن کې د منظورشوو او ثبت شوو شرکتونو لپاره دوه ورکړی شوي امتیازونه په لاندې ډول دي :

سریع استهلاک او د ضرر انتقال دهغه ترختمیدوپورې.

پورتني دوه امتیازونه د 1383 کال د چنګاښ د لومړۍ ( 21 / 06 / 2004 ) نیټې نه چې د پخوانیو معافیتونو د لغوه کیدو دنیټې سره مصادفه ده تطبیق کیږي.

## خلورمه برخه : دهغو منظورشوو تشبثونو دمالیاتي معافیتونو دوام چې د 1381 کال دپانګې اچونې دقانون له مخې یې ترلاسه کړي وه .

19. نوي مالیاتي امتیازونه دهغو تشبثونو لپاره دي چې د 1381 کال د کورنۍ او بهرنۍ پانګې اچونې او د 1384 کال دپیشنهادشوي قوانینو له مخې منظور او ثبت شوي دي. هغه شرکتونه چې د 1381 کال دپانګې اچونې د قانون پر اساس یې مالیاتي معافیتونه ترلاسه کړي وه ممکن د 1384 کال دپیشنهاد شوي قانون له مخې منظور نه شي. مګرداسې پیشنهادشوی دي چې نوی مالیاتي معافیتونه ټولو هغو شرکتونوته ورکړل شي چې د 1381 کال د پانګې اچونې دقانون پر اساس د مالیاتي معافیتونو

مستحق ګڼل شوي وه او هغه شرکتونه چې د 1384 کال پيشنهادشوی قانون له مخې به ثبت او راجستر شي .

20. څنګه چې په 14 فقره کې يادونه وشوه ، دماليې وزارت داسې ګڼلې ده چې ټولو هغو شرکتونوته چې دچنګاښ له لومړۍ ( 21 / 06 / 2004) نيټې څخه دمخه مالياتي معافيتونه ورکړل شوي وه د ثبت شوو شرکتونو شرايط او مقررات يې پر ځای کړي دي.

21. پورتنۍ نظريه د 1383 کال د چنګاښ له لومړۍ ( 21 / 06 / 2004) نيټې نه ورسته داعتبار وړ نه ده .همدارنګه هغوشرکتونو ته چې د پانګې اچونې دپرمختيا ادارې او يا د افغانستان د پانګې اچونې د مرستندويه ادارې ( آيسا) لخوا د 1381 کال دپانګې اچونې دقانون له مخې د 1383 کال د چنګاښ له لومړۍ ( 21 / 06 / 2004) نيټې څخه دمخه مالياتي معافيتونه ورکړل شوي دي، دمالياتي معافيتونو دمقرراتو څخه مبراً دي ولې که غواړي چې له دغودوو نويو امتيازونو څخه ګټه واخلي،دټولو مقرراتو څخه يې بايد پيروي وکړي.

## پنځمه برخه : دمستحقو تشبثونو لپاره انتقالي مقررات

22. لکه څنګه چې په 19 فقره کې يادونه وشوه ،هيله کيږي هغه منظورشوي تشبثونه چې د 1381 کال دکورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې دقانون پراساس يې مالياتي معافيتونه ترلاسه کړي دي دهغو مالياتي امتيازونو څخه داستفادې مستحق وګڼل شي چې پرعايداتو باندې دمالياتو په قانون کې ورزيات شوي دي .

23. يوله دغو دوو امتيازونو څخه د ثابتو تعميرونو او دارائي ګانو سريع استهلاک دي چې تشبث ورڅخه په هغه كال کې چې منظورشوي دی استفاده وکړي اويابې ورڅخه دوه كاله وروسته استفاده كړي وي . داستهلاک په موخه دموجوده استهلاک شوو دارايي ګانو ارزښت د1383 کال د چنګاښ له لومړۍ ( 21 / 06 / 2004 ) نيټې څخه چې نوي امتيازونه هم په همدغه نيټه پيل كيږي د اعتبار وړدی. نوموړي ارزښت دهغو دارايې ګانود استهلاک دعادې قواعدو له مخې چې دنوموړې نيټې نه دمخه خريداري او يا تهيه شوې دي ، محاسبه كيږي.

لومړی مثال :

دکابل ساختماني شرکت د 1382 کال د چنګاښ په لومړۍ ( 21 / 06 / 2003 ) نيټه يو پايه ماشين خريداري کړ چې قيمت يې 100000 افغانۍ او داستهلاک موده يې 10 كاله ده . د 1381 کال دکورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې دقانون له مخې نوموړي شرکت ته څلورکاله مالياتي معافيت ورکړل شوی وه ولې دهغه مالياتې معافيت د 1383 کال د چنګاښ په لومړۍ ( 21 / 06 / 2004 ) نيټه لغوه شو. کله چې د 1383 کال د چنګاښ په لومړۍ ( 21 / 06 / 2004 ) نيټه د سريع استهلاک مالياتي امتياز نافذ شو ، دنوموړي ماشين داستهلاک ارزښت په لاندې ډول دې:

دماشين داستهلاک ارزښت : 100000 _ 10000 (ديوه کال استهلاک) = 90000 افغانۍ .

دکابل ساختماني شرکت مستحق دی چې دماشین تخمیني لګښت یعنې ( 90000 افغاني ) ددوه کالو په دوران کې استهلاک کړي.

24. دوهم مالیاتي امتیاز د مالي کال د خالص ضررد انتقال څخه عبارت دي . ضرر ترهغه وخته انتقالیږي ترڅو ختم ( رفع ) شي . هغه منظور شوي شرکتونه چې د 1383 کال د چنګاښ له لومړۍ ( 21 / 06 / 2004 ) نیټې نه یې مالیاتي معافیتونه پای ته رسیږي دهغو ضررونو درفع کولو مستحق دي چې دپورتنۍ نیټې څخه پیل کیږي. هغه ضررونه چې د 1383 کال د چنګاښ له لومړۍ ( 21 / 06 / 2004 ) نیټې څخه دمخه منځ ته راغلي دي ، په دغه امتیاز کې شامل نه دی.

دوهم مثال :

دهرات مخابراتي شرکت په 1381 کال کې په کارپیل کړی . دزیاتو بنیادي لګښتونو له کبله نوموړی شرکت تر 1385 کال پورې دهیڅ ډول ګټې توقع نه لري . نوموړي شرکت ته مالیاتي معافیت ورکړل شوی وه مګر د مالیاتي مقرراتو څخه یې پیروي و نه کړه ، نوځکه یې مالیاتي معافیت د 1383 کال د چنګاښ له لومړۍ ( 21 / 06 / 2005 ) نیټې څخه لغوه ګڼل کیږي. د 1383 کال دچنګاښ دلومړۍ نیټې څخه وروسته چې دغه شرکت هر ډول ضرر سره مخ شي ، دخپلومالیاتو څخه د ضرر دوضع کولو مستحق دي. ترهغه وخته پوري ضرروضع کولی شي ترڅویې چې ضرر په بشپړه توګه پای ته ورسیږي.

## دماليې وزارت

## 1383 هجري لمريز کال

پرعايداتو باندې دمالياتودقانون لاندې مادو ته مراجعه وکړې:

| | |
|---|---|
| د درې کالولپاره د ضررانتقال | 47 ماده |
| دپانګې اچونې لپاره 15 فيصده امتياز | 52 ماده |
| مالياتي امتازونه | 53 ماده |
| مالياتي امتيازونه او دانتفاعي معاملومالیه | 76 ماده |

## 3- : دري پنځوسمه ماده

(1) که چیرې قراردادونه ، موافقه لیکونه او د نورو قوانینو حکمونه ، پر عایداتو باندې د مالیاتو د قانون له حکمونو سره په مغایرت کې وي ، پر عایداتو باندې د مالیاتو د قانون حکمونه تطبیقیږي .

(2) قراردادونه او نړیوال موافقه لیکونه چې له بهرنیو دولتونو او د ملګرو ملتونو د سازمان له مؤسسو سره عقد کیږي ، د دې مادې د (1) فقرې له حکم څخه مستثني دي .

(3) منظور رشوي تشبثونه چې له 1 / 9 / 1381 نیټې څخه دمخه یې عملاً په فعالیت پیل کړی وي د 20 / 6 / 1381 نیټې په ( 803 ) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوي په افغانستان کې د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې د قانون د حکمو نو مطابق ، په هغه صورت کې کولای شي په هغه قانون کې له درج شوو امتیازونو څخه ګټه پورته کړي ، چې د اړوندو قوانینو حکمونه یې په پام کې نیولي وي.

(4) هغه منظور شوي تشبثونه چې د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې په قانون کې درج شوي مکلفیتونه یې سرته نه وي رسولي ، د 1383 کال د سرطان له لومړۍ نیټې څخه وروسته د هغه قانون د درج شوو حکمونو له معافیت څخه د ګټې اخیستنې مستحق نه دي .

(5) منظور شوي تشبثونه په لاندې توګه د ودانیو او تجهیزاتو د استهلاک د مجرایي مستحق ګڼل کیږي :

1- د ودانۍ لپاره ، څلور کاله موده .

2- دتجهیزاتو لپاره ، دوه کاله موده .

(6) هغه منظور شوي تشبثونه چې د مالي کال په اوږدو کې له خالص عملياتي زيان سره مخامخ شوي وي، ددفتر او قانوني سندونو په کتنې سره ، پر عايداتو باندې د مالياتو د قانون له اووه څلويښتمې مادې څخه د استثني په عنوان ، په هر وروستي کال کې د وارد شوي زيان تر بشپړ لرې ( رفع ) کيدو پورې له خپلو د ماليې وړ عوايدو څخه مجرايي ترلاسه کوي.

د منظور شوو تشبثونو د واردشوي زيان محاسبه پر عايداتو باندې د مالياتو د قانون د اووه څلويښتمې مادې د حکمونو مطابق ، صورت مومي .

(7) هغه منظور شوي تشبثونه چې د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې په قانون کې له درج شوو مالياتي معافيتونو څخه يې ګټه اخيستنې او د معافيتونو د ټا کلې مو دې تر پای ته رسيدو پورې ثابته پانګه ورسره موجوده وي ، ددې مادې د (4) فقرې د حکم له په پام کې نيولو سره ، د پاتې پانګې ارزښت د ودانيو او تجهيزاتو د استهلاک د مجرايي له محاسبې وروسته ، د ثابتې پانګې په توګه ګڼل کيږي او ددې مادې د (5) فقرې حکمونه پدې مورد کې تطبيقيږي .

(8) په هر مالي کال کې د ودانيو او تجهيزاتو استهلاک په مساويانه ډول سنجول کيږي او مجرايي ورکول کيږي .

که چيرې دتشبث ثابته پانګه د مالي کال له نيمايي څخه لږ د هغه په واک کې وي ، د کلني استهلاک له نيمايي مجرائي څخه ګټه اخلي .

(9) د هغو شتمنيو او تجهيزاتو د استهلاک مجرايي چې برابر ( تهيه ) يا پيرودل کيږي ، يواځي په هغه صورت کې د محاسبې وړ ګڼل کږي چې د تشبث د منظوريدو په کال يا په دوو راوروسته کلونو کې له هغو څخه ګټه اخيستل شوي وي .